**نړیوال کپیټلیزم د اقتصادي او سیاسي نابرابرۍ په شان د دوو سترو بلاګانو مرسته کوي**



**خبر**

د نړۍ ٪۱ تر ټولو بډای خلک به تر ۲۰۳۰م پورې د نړۍ له درییو دوې برخې شتمني په لاس کې لري. [۱] د نړۍ رهبرانو ته بریتانیې د عامه کتابتون لخوا خبرداری ورکړل شوی چې د خاصې طبقې خلکو په لاس کې د شتمنیو راټولېدل به په راتلونکې لسیزه کې د زیاتېدو په لور ناباوري او قهر لا زیات کړي، مګر دا چې د اندول د برابرولو لپاره ګامونه واخیستل شي. [۲]

**تبصره**

له ۲۰۰۸ کال راهیسې د نړۍ ٪۱ بډایو خلکو شتمني په کال کې په منځنۍ کچه ٪٦ زیاتېږي، چې په کلنۍ توګه د نړۍ د ٪۹۹ خلکو د شتمنیو د ٪۳ تر زیاتېدو ډېره چټکه ده. که داسې ادامه ومومي دا ٪۱ خلک به په ۲۰۳۰م کې ۳۰۵ تریلیونه ډالره شتمني ولري، چې اوس ۱۴۰ تریلیونه ډالره ده او ۸۵ زره کسان به د نړۍ ٪٦۷ شتمني کنترولوي. [۳]

په یوه سرشمېرنه کې چې د اوپینیوم لخوا تر سره شوې، ویل شوي چې ٪۳۴ خلک دا وایي چې هغوی به ۲۰۳۰م کې دومره ځواک ولري چې ډیموکراسي به له ننګونې سره مخ کړي. د سرشمېرنې موندنې ډېری ګوابنونه په ډاګه کوي چې د شتمنیو راټولېدل نه یوازې اقتصادي نابرابري رامنځته کوي، بلکې سیاسي نابرابري هم تحریکوي او د نابرابرۍ دا دواړه بڼې د هرې ټولنې د ثبات لپاره ډېرې خطرناکې دي.

دا موندنې نوې نه دي. پروفیسور توماس پیکېټي په خپل کتاب کې (په یوویشتمه پېړۍ کې شتمني) له شواهدو سره ویلي چې اقتصادي نابرابري د کپیټلیزم یوه دوامداره ځانګړنه ده. له بدمرغه د پیکېټي پر شتمنۍ د مالیې لګول د کپیټالیستي ظالم نظام د ناروغۍ د حل لارې په توګه وړاندې کول اصلي ستونزه نه حل کوي.

د کپیټلیزم اصلي ستونزه پر شتمنیو د مالیې نشت نه دی، بلکې د ملکیت ازادي ده، چې شتمني د څو ځانګړو کسانو لاس ته اچوي. دا شتمنو ته اجازه ورکوي چې خپله شتمني د دې لپاره وکاروي چې پر اجرایي، قضایي او مقننه قواوو فشار راوړي چې د ډېرو په مصرف هغوی ته په پاملرنې سره قوانین جوړ کړي

دا هغه قوانین رامنځته کوي چې عامو خلکو ته د شتمنیو د لاسرسي وړتیا کموي، عامه ملکیتونو خپل کړي او داسې پټ ځایونه جوړ کړي چې خپله شتمني د مالیه اخیستونکو له سترګو پټه کړي او په ډېرو خلکو فشار راوړي چې دا ومني. بیا پروا نه لري چې څومره

په قهر سره عام وګړي اعتراضونه کوي او هغوی ځواک نه لري چې د شتمنيو د راټولېدلو مخنيوی وکړي. په بله وينا کپيټليزم په خپل ذات کې له ډېرو خلکو څخه د شتمنو خلکو لاس ته د شتمنيو لوېدل تشويقوي.

په اسلام کې د ملکيت آزادي نشته. د اسلامي حکومت هر اوسېدونکی دا حق لري چې يو څه لاسته راوړي او د ملکيت د لاسته راوړلو قوانين او د هغه مصرف د الله سبحانه و تعالی لخوا ټاکل شوي. له دې امله اسلامي ټولنه شتمن ته دا اجازه نه ورکوي چې عامه ملکيت په لاس کې واخلي، داسې ټرونونه وشي چې شتمنۍ او ملکيت ته د لاسرسي لار بنده کړي، دغه راز داسې شرکتونه جوړ شي چې له ماليې ځان وژغوري او پر اجرايي او قضايي نظام اغېزه وکړي. ځکه نو اسلام به هېڅکله له دې ملاتړ ونه کړي چې شتمني د څو ځانګړو کسانو تر منځ لاس په لاس شي. په دې توګه اسلامي ټولنه چې د خلافت تر سيوري لاندې پکې خلک ژوند کوي، تر کپيټليستي ټولنو ډېره زياته باثباته ده، چې د اقتصادي او سياسي نابرابرۍ انډول پکې ډېر کم وي. الله سبحانه وتعالی فرمايلي:

﴿مَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ مِنْ أَهْلِ الْقُرَىٰ فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاءِ مِنكُمْ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ﴾ [حشر: ۷]

***ژباړه:*** *څه چې الله متعال د دغو اباديو له خلکو څخه خپل پيغمبر ته ورکړي، هغه د الله، پيغمبر، (د پيغمبر) د خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو او مسافرو لپاره دي؛ ترڅو مالونه يوازې ستاسو د بډايانو تر منځ لاس په لاس نه شي (او اړمن ترې بې برخې نه شي). څه چې پيغمبر تاسو ته (له الهي احکامو) راوړي دي، هغه تر سره کړئ او له څه مو چې منع کوي، ډډه ترې وکړئ. له الله تعالی ووېرېږئ، بېشکه هغه تعالی سخته سزا ورکوي.*

**د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**ليکوال: عبدالمجيد باتي**

سرچينې:

[۱] https://www.theguardian.com/business/2018/apr/07/global-inequality-tipping-point-2030

[۲] ibid.

[۳] https://news.un.org/en/story/2015/07/505352-un-projects-world-population-reach-85-billion-2030-driven-growth-developing

[۴] Ryan Cooper (25 March 2014). "Why everyone is talking about Thomas Piketty's Capital in the Twenty-First Century". The Week